وزارت تحصیلات عالی

پوهنتون لوگر

معاونیت علمی و امور محصلان

پوهنځی تعلیم و تربیه

دیپارتمنت زبان و ادبیات انگلیسی

# کتاب رهنمای محصلین

ترتیب کننده: – دیپارتمنت زبان و ادبیات انگلیسي

۱۴۰۴ هـ ق 1447 - هـ ش

لوگر پوهنتون

## علمي او محصلانو چارو معاونیت

## ښوونې او روزنې پوهنځی

## انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګه

### د څانګې مخینه:

د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګه د ملکي لوړو زده کړو مؤسسو عالي شورى د (۵) ګڼې ۱۳۹۸/۰۸/۱۵ نېټې (۱۷) بند تصويب پر بنسټ د يو غير فارغ ورکوونکي څانګې په حيث د ښوونې او روزنې پوهنځي په چوکاټ کې داخل شو؛ او له ۱۴۰۰/۰۲/۱۵ نيټې څخه وروسته يې په فعاليتونو پيل وکړ، او په ۱۴۰۳ هـ ش کال لومړۍ دوره محصلين جذب کړل، چې اوسمهال پنځه تنه علمي کادر غړي لري.

### لرليد:

د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګه به هیواد په کچه داسې مسلکي او پیاوړي اشخاص وروزي چې پر مټ به يې د انګلیسي ژبې په برخه کې د ټولنې اړتیاوې پوره کړي.

### رسالت:

د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې ټولیزه موخه سواد ته، په خاص ډول د انګلیسي ژبې په برخه کې د لوستلو، لیکلو او خبرو کولو توانایی ته پرمختګ ورکول دي.

پورته د څانګې لرليد او رسالت د څانګې په ( ۷ ) ګڼه پروتوکول او ۲/ ۴ / ۱۴۴۷ هـ. ق مطابق د ۱۴۰۴/۷/۲ هـ ش نیټه جلسه، د پوهنځي ستراتيژيک پلان کمېټې په ( ۷ ) ګڼه پروتوکول او ۱۵ / ۴ / ۱۴۴۷ هـ. ق مطابق د ۱۴۰۴/۷/۱۵ هـ ش نېټه جلسه او همدارنګه د پوهنځي علمي شورا (۸ ) ګڼه پروتوکول او ۲۰ / ۴ /۱۴۴۷ هـ. ق مطابق د۱۴۰۴/۷/۲۰ هـ ش نېټه جلسه کې ثبت دي.

## تشکیلاتي جدول:

| نوم | تخلص | علمي رتبه | وظیفه |
|---|---|---|---|
| **رفیع الله** | سعید | پوهنیار | د څانګې آمر |
| **محمدتمیم** | مزمل | پوهنیار | علمي کادر غړی |
| **نورجمال** | مبارکزی | نوماند پوهنیار | علمي کادر غړی |
| **حامد کرزی** | شینواری | نوماند پوهنیار | علمي کادر غړی |
| **محمد یعقوب** | رحماني | نوماند پوهنیار | علمي کادر غړی |

## د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې فارغو محصلانو لپاره کاري فرصتونه:

۱: په پوهنتونونو او علومو اکاډمۍ کې د استاد، څېړونکي یا علمي کادر غړي په توګه

۲: په دولتي او خصوصي ښوونځیو کې د انګلیسي ژبې د ښوونکي په توګه.

۳: په ژبنیزو او ښوونیزو مرکزونو کې د انګلیسي ژبې د مسلکي استاد په توګه.

۴: په دولتي ادارو، نادولتي مؤسسو (NGOs) او نړیوالو سازمانونو کې د ژباړونکي (Translator) او شفاهي ژباړونکي (Interpreter) په توګه.

۵: په سفارتونو، قونسلګریو او نړیوالو ادارو کې د اداري او ژبني کارکوونکي په توګه.

۶: د پروژو د راپور لیکونکي (Report Writer) او اسنادو د تنظیموونکي په توګه.

۷: د انګلیسي ژبې د نصاب او درسي موادو د جوړوونکي په توګه.

۸: د سیاحت او ګرځندوی په برخه کې د لارښود (Tour Guide) او د بهرنیو مېلمنو د همغږي کوونکي په توګه.

۹: د څېړنیزو مرکزونو او علمي پروژو کې د څېړنیز مرستیال (Research Assistant) په توګه.

۱۰: د کتابونو، مقالو او علمي آثارو د ژباړن او سمون مدیر (Proofreader) په توګه.

۱۱: د نړیوالو ازموینو لکهIELTS او TOEFL د چمتووالي استاد په توګه.

۱۲: د مشتریانو د خدمتونو (Customer Service) او د اړیکو د مرکزونو (Call Centers) کارکوونکي په توګه.

۱۳: د انګلیسي ژبې د روزنیزو ورکشاپونو او مسلکي پراختیایي پروګرامونو د روزونکي په توګه.